**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۴** **نېټه: ۱۴۴۴/۲/۴ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو د ریاستونو محترمو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

و بعد: د سترې محکمې رئیس صاحب، محترم الشیخ عبدالحکیم الحقاني صاحب، د سیمینار په وروستۍ ورځ د وینا پر مهال د استیناف او ښاري محکمو محترمو رئیسانو ته هراړخیزې لارښوونې کړې، چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

1- ((ابتدائیه محکمې دې خپل استهداآت او وړاندیزونه په لیکلې بڼه د مرافعه محکمې له لارې د سترې محکمې مقام ته واستوي. مرافعه محکمه چې کوم اجراآت ترسره کولای شي او صلاحیت یې لري، ترسره یې دې کړي او مرافعه محکمه چې کوم اجراآ نه شي ترسره کولای، هغه دې په لیکلې بڼه د سترې محکمې مقام ته واستوي.
همدارنګه، د زونونو نظامي محکمې او نظامي مرافعه محکمې دې خپل استهداآت او وړاندیزونه په لیکلې بڼه د سترې محکمې مقام ته واستوي.

2- کومې فیصلې چې په ابتدائیه یا مرافعه پړاو کې قطعي کېږي، هغه دې اړونده تمیز ته واستول شي تر څو اړونده تمیز یې د اجراء امر صادر او پریکړه په آرشیف کې خوندي کړي.

3- د پرېکړې د تطبیق امر د تمیز له خوا صادرېږي او د تمیز عالي ریاست په خپل لیک کې (هغه مرجع، چې پرېکړه ورته د تطبیق لپاره استول کېږي) ټاکي. د دې ترتیب له امله چې کوم ځنډ رامنځته کېږي، د مخنیوي لپاره یې د حل لارې په موندلو غور کېږي.

4- زیاتره محکمې خپل اجراآت په ځنډ سره ترسره کوي. د بېلګې په ډول: د دارالانشاء عمومي ریاست په ۱۴۴۳/۷/۱ هـ ق نېټه د ټیلیګرام ګروپ فعال کړی او لېنک او لارښوونه یې د افغانستان اسلامي امارت ټولو محکمو ته استولی دی تر څو ټول قضایي منسوبین په یاد ګروپ کې ګډون وکړي. سره له دې هم، د دارالانشاء عمومي ریاست د ټیلیګرام په ګروپ کې د قضائي کارکوونکو د ټول شمېر له نیمایي څخه زیاتو کسانو ګډون نه دی کړی. په همدې ترتیب، مونږ له ټولو محکمو څخه

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

یوه میاشت وړاندې د زندانیانو لسټ غوښتلی و، چې زیات شمېر محکمو تراوسه پورې هغه لسټ ندی رالېږلی. بناءً، ټولې محکمې دې خپل اجراأت پر وخت بې له ځنډه ترسره کوي.

5- د سترې محکمې د دارالانشاء د عمومي ریاست د ۱۴۴۳/۱۲/۲۵ هـ ق نېټې د (۱۹) ګڼه متحدالمآل د هدایت مطابق، قبالې دې پیل او اجراء شي.

6- د قبالې مثنی دې د سترې محکمې د دارالانشاء د عمومي ریاست د ۱۴۴۴/۱/۱۹ هـ ق نېټې د (۱) ګڼه متحدالمآل د هدایت له مخې ترتیب شي.

7- وکالت خطونه دې د سترې محکمې د دارالانشاء د عمومي ریاست د ۱۴۴۴/۱/۲۵ هـ ق نېټې د (۷) ګڼه متحدالمآل له مخې ترتیب شي.

8- د نکاح خط اجراء دې پیل شي؛ که کومه شرعي ستونزه نه وي، له پخوانیو نکاح خطونو څخه دې ګټه واخیستل شي.

9- ټولې محکمې دې خپله استدعاء په خپل وخت په وارده کې قید کړي، کله چې مرافعه غوښتونکی شخص خپله استدعاء مرافعه محکمې ته وړاندې کړي، تاسې هغه په وارده کې ثبت کړئ. خو د کاري حجم په تناسب، د مرافعه غوښتونکي شخص د مراجعې نېټه معلومه کړئ.))

پورتنۍ بیانیه په لیکلې بڼه د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې شوه چې عالي محترم مقام په دې هکله داسې هدایت وکړ:

((وکتل شو: ۱۴۴۴/۲/۲ هـ ق!

د سترې محکمې د قضائي عالي سیمینار اختتامیه وینا دې د متحدالمآل په بڼه ټولو محکمو ته واستول شي.))

بناءً، د سیمینار د اختتامیه وینا موضوعات د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت مطابق د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه محکمو او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شول تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وکړي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د سترې محکمې**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ‌زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.